# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| مسایل ایدئولوژیک | Ideological |
|---|---|

ترتیب کونکی : الحاج داکترامین الدین سعیدی – سعید افغانی

۲۷ مارچ ۲۰۲۰

## اسلامی نصایح د وژونکي وایروسونو په هکله:

۱ـ خپله سیمه او ښار د روغتیا په خاطر پریښودل ، یا کومه سیمه کي چي طاعون یا وباء راغلي د روغتیا په خاطر هلته نه ورتلل په صحیح مسلم شریف کي راغلي:

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّاعُونُ آيَةُ الرِّجْزِ ابْتَلَى اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ بِهِ نَاسًا مِنْ عِبَادِهِ فَإِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ فَلَا تَدْخُلُوا عَلَيْهِ وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَفِرُّوا مِنْهُ"

( نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: طاعون د سخت عذاب نښه ده، الله تعالی وربانديې ځیني خلک اخته کړي، که تاسي د کوم ځای د طاعون خبر واورئ هلته مه ورننوځئ، او کله که په هغه ځمکه طاعون راشي چي تاسي پکي یاست نو له دغه ځایه تېښته مه کوئ.

زمونږ پخوانیو علماءؤ یادونه کړي چي د روغتیا په خاطر د خپلي سیمي څخه د ناروغی پر مهال د نه وتلو حکمت دا دی چي: ناروغي خپره نشي، نور خلک په دې ناروغی اخته نشي، تر څو هغوی ته د ضرر رسولو ګناه ورپه غاړه نشي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی: «لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ» نه به د بل څخه څوک متضرر کیږي او نه به چاته ضرر رسول کیږی.

بناءً دا جایز نه ده چي څوک نورو ته په دین، بدن ، عقل، مال او یا په نورو شیانو کي د ضرر رسولو سبب شي، په همدې توګه مادي او معنوي دواړو اړخونو کي باید نورخلک د خپل ضرر څخه وساتي، بلکي پخوانیو علماؤ د ساري ناروغیو د خپروني په تحریم ټینګار کړی دی.

اوهغه سیمه کي چي وباء خپره شوي، د نه ورتللوحکمت دا دی چي خپل نفس د هلاکت سره مخامخ نه کړي، یا د هلاکت سبب کیږي، ځکه چي د بدن او روغتیا ، او د عقل ساتنه د شریعت د مهمترینو مقاصدو څخه ده.

۲ـ هغه هوا چي په وبایی وایروسونو ککړه وي تنفس نکړئ، معنی دا چي کوم ناروغان چي په دې ناروغی اخته دي ورنږدې نشئ، البته صرف د علاج په خاطر ورنږدې کیدای شي هغه هم د لازم وسایلو د کارولو وروسته، ځکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: « وَفِرَّ مِنْ الْمَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنْ الْأَسَدِ» یعنی د هغه ناروغ څخه چي د جذام په وبایي ناروغی اخته دی داسي ځان وساته لکه څرنګه د زمري څخه ځان ساتې، او د دې حدیث شریف د « لَا عَدْوَى» یعني ناروغي بل چاته سرایت نه کوي، صحیح حدیث سره کوم تناقض نشته

مطلب دا دی چې ناروغي د جاهليت د عقيدې په څېر په خپل ذات او طبيعت سره بل چاته سرايت نه کوي، همدا د سمي او شرکي عقيدې معيار دی، البته د ساري ناروغيو څخه تېښته د اسبابو د کارولو په معنی ده چې الله تعالی يې د کارولو امر کړی دی ، د همدې معنی په سموالي دا بل حديث شريف هم ټينګار کوي « لَا يُورِدُ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ» يعنی په ناروغۍ اخته به روغانو ته نه ورځي.